مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڅ ۲۰۲۶/۰۶/۲۹

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دوه ویشتمه برخه)



(بې‌نظیر بوټو غونډې ته د وینا په حال کې چې دا یې د ژوند وروستۍ غونډه وه.)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۱۸)**

**جنرال مشرف او د بې‌نظیر بوټو وژل**

د پاکستان ټول ولسمشران او جنرالان، له محمد علي جناح، لیاقت علي خان، پښتون محمد ایوب خان، ذولفقارعلي بوټو، جنرال ضیاء او له جنرال مشرف څخه نیولي تر نن پورې له افغانستان سره په دښمنی کې دي چې د بې‌نظیر بوټو پلار، ذولفقارعلي بوټو لومړنی کس ؤ چې له افغانستان سره یې عملاً خپله دښمني څرګنده کړې ده، داسې چې د ذولفقارعلي بوټو د واکمنی پر مهال، د افغانستان خلاف یو شمیر افغان یاغیان لکه: **برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار، احمد شاه مسعود** او نور افراطیان په ۷۰یمه زیږدیزه لسیزه کې پاکستان ته وتښتیدل چې د بوټو د حکومت لخوا، د ولسمشر داؤد خان د جمهوري حکومت پر خلاف یې وسلهوال کړل او په افغانستان کې یې تر یو ځایه تخریبي کړنې ترسره کړې. دا د پاکستانیو چاروکو لخوا لومړنی ځل ؤ چې د افغان حکومت پر خلاف یې یاغي افغانان د ورانکارۍ په موخه افغانستان ته راولیږل.

د پاکستان پوځي او ملکي واکمنو چې له آره یې له افغانستان سره دښمني کړې ده او دا دښمني اوس‌مهال لا پسې پراخه شوې ده، بیا هم، موږ د څېړنې د کړنلارې(مېتود) پر بنسټ اړ یو د پاکستان پېښو ته له یوې درېیمې او بې‌پرې زاویې څخه ګورو او څه چې ربتیا دي هغه باید ولیکو او خپل لیدلوری هم ورسره مل کړو.

لکه په تېرو پاڼو کې مو چې ولوستل، ذوالفقارعلي بوټو د پاکستان پوځي دیکتاتو جنرال ضیاء لخوا اعدام شو او ځان یې د پاکستان واکمن اعلان کړ، جنرال ضیاء او نورو پاکستانیو جنرالانو د بوټو له کورنۍ سره سخت ناوړه او ظلمانه چلند کړی دی، د نوموړي د کورنۍ غړي یې ووژل او په کلونو، کلونو یې بندیان، نظربند او جلاوطنه (تبعید) کړل. د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال ضیاء او نورو جنرالانو له لاسه، د ذوالفقارعلي بوټو لور بېنظير بوټو، شاوخوا ۶ کاله په زندان او کورني بند کي تېر کړل او ۸ کاله یې جلاوطنه کړي وه. د جنرال ضیاء او د هغه ډلي تېلي لهخوا، سربېره پر ذولفقارعلي بوټو، د هغه دوه زامن، شهنواز بوټو او مرتضی بوټو هم ترور شول، د بوټو کورنی د سیمي داسي یوه سیاسي کورنی ده چي تر ټولو ډېر غړي يي په بېلابېلو وختونو کي د پاکستان د پوځیانو لهخوا ترور شوي دي.
بېنظير بوټو د خپلی کورنی د ظلمونو د غچ اخیستل له پاکستانيو جنرالانو څخه، د دموکراسی په پلي کولو کي لیدل، هغي ویل چي **«له جنرالانو څخه تر ټولو ښه غچ اخیستل په پاکستان کي د دموکراسی پلي کول دي.»**[1]

د ۲۰۰۷ز. کال د اکتوبر په ۱۸مه نېټه کله چي بېنظير بوټو له جلاوطنی وروسته، د ۲۰۰۸ز. کال د ولسمشري د ټاکنو په موخه کراچی ته راستنه شوه او د جناح له نړیوال هوايي ډګر څخه د یوې ولسي غونډې پر لور روانه وه[2] او په سلګونو زره پلویان يي د ښه راغلاست لپاره هوايي ډګر ته راټول شوي وو، لږه شیبه وروسته، د سختو امنیتي تدابیرو سره سره د کراچی ښار په لنډ واټن کي دوه چاودني وشوې.[3] **په دې برید کي بېنظير بوټو وژغورل شوه خو ۱۳۹ کسان ووژل شول او لږترلږه ۴۵۰ تنه ټپیان شول.**[4]
**په وژل شویو کي نږدې ۵۰ امنیتي ساتونکي هم شامل وو چي د پاکستان د بېنظير بوټو د پیپلز پارټی غړي وو. هغوی د بوټو د موټر شاوخوا انساني دفاعي کری جوړه کړي وه، څو احتمالي ځانمرګي بریدګر ترې لري وساتي. همدارنګه شپږ پولیس افسران هم ووژل شول.**[5] بېنظيره وايي چي زه پوهېدم چي په ما به تروروستي برید کېږي ځکه مي د خپل ګوند مشرانو ته ویلي وو چي له ما څخه دي لري اوسیږي.

د کراچي د چاودني په هکله بېنظير بوټو، یوه ډېره زړهبوږنوونکي خبره کړي وايي چي **«د کراچی په چاودنه کي ما ته یو ماشوم راوړاندي کړای شو، کله چي ما هغه ماشوم په غېږ کي وانه خیست نو د پولیسو په منځ کي يي چاودنه وکړه، په هغه ماشوم پوری يي چاودیدونکي توکي تړلي وو ... .»**[6]

ځینو کړیو د کراچي د چاودني عاملین د تحریک طالبان پاکستان، (ټيټيپي) ډله وبلله خو د نوموړي تحریک مشر **(بیت الله مسید)** د کراچی برید رد کړ.

بېنظير بوټو د پاکستان د استخباراتو تر ټولو پیاوړ ترهګر او غلام، ګلبدين حکمتیار یادونه هم کوي وايي چي یو لیک مي تر لاسه کړ چي ظاهراً د **قطب الدین [ګلبدین] حکمتیار** د افغان مجاهدینو د مشر له خوا لیکل شوی ؤ چي خپلو کسانو ته يي لیکلي وو:**«بېنظير بوټو له منځ یوسئ.»**[7]

بېنظير بوټو زیاتوي چي «حکمتیار د پاکستان له استخباراتي سازمان سره نږدې اړیکي لرلي او حتماً د دغه سازمان په غوښتنه زما د ترور امر ورکړای شوی ؤ.»[8]

له دغي چاودني وروسته، بوټو او مېړه يي له ولسمشر جنرال مشرف څخه د لا ډېرو امنیتي تدابیرو غوښتنه وکړه چي په کي د تورو ښیښو لرونکی موټر، د زیري وسایل، شخصي ساتونکي او څلور پولیس موټر شامل وو. د دوی دغه غوښتنه د امریکا د سنا درو تنو غړو هم په یوه لیک کي له مشرف څخه کړي وه.

د کراچي له بریدونو دوه میاشتي او نهه ورځي وروسته، «د ۲۰۰۷ز، کال د دسمبر پر۲۶مه شپه» بېنظير بوټو له یو اوږده سفره، د پلازمېني اسلام آباد، (زرداري هاوس) نومي کور ته په داسي حال کي ورسېده چي د پاکستان د استخباراتي اداري آیاېسآی مشر جنرال **(ندیم تاج)** د یوه مهم کار لپاره د لیدو غوښتنه وکړه.

---

[1]: بي نظير بوټو، دختر شرق: خاطرات بی نظیر بوټو . ترجمهٔ دری: علی رضا عیاری. ۱۳مخ
[2]: https://www.reuters.com/article/latestCrisis/idUSSP260961
[3]: بي نظير بوټو، دختر شرق: خاطرات بی نظیر بوټو . ترجمهٔ دری: علی رضا عیاری. ۱۳مخ
[4]: https://www.reuters.com/article/latestCrisis/idUSSP260961
[5]: https://www.nytimes.com/2007/10/20/world/asia/20Pakistan.html
[6]: آزادی راډيو: ۱۳۸۶/۸/۱۹ل. ل)
[7]: بي نظير بوټو، دختر شرق: خاطرات بی نظیر بوټو . ترجمهٔ دری: علی رضا عیاری.۵۰۲مخ)
[8]: بي نظير بوټو، دختر شرق: خاطرات بی نظیر بوټو . ترجمهٔ دری: علی رضا عیاری.۵۰۲مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د آی‌اېس‌آی مشر د خپلو مالوماتو پر بنسټ بې‌نظیرې ته وویل چې **د ورځې په اوږدو کې یې د وژنې خطر شته.**
د جنرال تاج د خبرو له اورېدو وروسته بې‌نظیر بوټو ګومان وکړ چې ښايي پوځيان نه غواړي د سبا ورځې خپل پروګرام تر سره کړي، ځکه يې له هغه وپوښتل: **که د ځانمرګو بريدګرو مالومات لرې نو ولې يې نه نيسې؟ جنرال تاج ځواب ورکړ، دا شونې نه ده، ځکه د وسايلو راز افشا کېږي.**
بې‌نظیرې له هغه وغوښتل چې د دې او پلويانو د امنيت لپاره نور ګامونه پورته کړي او جنرال تاج ورسره ژمنه وکړه چې همداسې به کوي.[9]

د آی‌اېس‌آی مشر جنرال نديم له څرګندونو داسې ښکاري چې هغه دوه موخې درلودلې، **لومړی دا چې بې‌نظيره ووېروي او له خپلو ټاکنيزو هلوځلو يې منع کړي تر څو په ټاکنو کې بريالۍ نه شي.**
**دويم پلان داسې ؤ، که بې‌نظير بوټو خپلو ټاکنيزو مبارزو ته دوام ورکوي نو بايد ووژل شي.**

جنرال مشرف چې د پاکستان يو کودتاچي ولسمشر؛ د پوځ اعلی سر قوماندان او د ۲۰۰۸ز. کال د ولسمشرۍ د ټاکنو نوماند هم ؤ، د ۲۰۰۷ز، کال د ټاکنيزو مبارزو پر مهال يې بې‌نظير بوټو له بېلابېلو لارو وډاره کړه چې ګونډې له ټاکنو لاس واخلي خو بې‌نظيره چې يوه زړوره ميرمن وه، د پاکستانيو جنرالانو له ګواښونو ونه وېرېده، هغه وو چې مشرف په استخباراتي، اوپراتيفي چلول او نامخامخ توګه د هغې د وژلو په موخه، دويم پلان پلې کړ، تر څو په راتونکو ټاکنو کې (چې د بې‌نظير بوټو برى له ورايه ښکارېده) بې برخې پاتې شي او ټاکنې مشرف وګټي.

له دې امله چې له بې‌نظيرې سره د جنرال مشرف امنيتي ځواکونو مرسته نه کوله «د بې‌نظير بوټو امنيتي کسانو شکايت وکړ چې د چاوېدونکو توکو د لټولو وسايل چې د حکومت له‌خوا ورکړل شوي دي سم کار نه کوي.[10]

د دسمبر پر ۲۷مه نېټه، بې‌نظير بوټو... د خپل ګوند پاکستان پيپلز پارټۍ له مخکيني سناتور مخدوم امين فهيم سره يو ځای د افغان ولسمشر حامد کرزي ليدو ته ورغلې وه. ښاغلی کرزی د اسلام آباد د سرينا هوټل په څلورم پوړ کې اوسېدۀ او بې‌نظيره د هغه له ليدو وروسته يوه نيمه بجه خپل کور ته ستنه شوه، هغې له غرمې ډوډۍ وروسته د ملګرو په مشوره، د لياقت باغ په پارک د خپلو پلويانو په يوه غونډه کې د ګډون لپاره چمتو والی نيوه.[11]
بې‌نظيره د راولپينډۍ د لياقت باغ پارک ته په (۳:۱۶) بجو غونډې ته ورسېده، **پوليسو د دروازې کيلۍ نه درلودې چې له همدې کبله د بې‌نظيرې د سپرلۍ موټر له (۳ تر۵) دقيقو پورې د دروازې مخې ته ولاړ پاتې شو،** بې‌نظيره دا وخت د خونديتوب له هر ډول احتياط پرته په خپل موټر کې ولاړه وه او مخ يې د موټر له چت څخه بهر ښکارېده.[12]

له دې وروسته بې‌نظيرې، شاوخوا د لسزرو کسانو پر وړاندې نژدې نيم ساعت وينا وکړه، ۱۷ ځله يې د خپل پلار ذوالفقار علي بوټو د نوم يادونه وکړه او له وينا وروسته يې پلويانو **«ژوندی دې وي، بې‌نظر بوټو، ژوندی دې وي لومړی وزيره بې‌نظير بوټو»** شعارونه ورکول.

له وينا وروسته بې‌نظيره په خپل ګاډي کې کېناسته چې شاوخوا يې ګڼ شمېر پلويان ولاړ وو.
بې‌نظير بوټو د خپلو پلويانو له ليدو وروسته په ګاډي کې ودرېده او د ګاډي د چت له درېڅې څخه يې سر او ولې ښکاريدل چې دا مهال ځايي وخت پنځه بجې او لس دقيقې وې.[13]

---

[9]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905

[10]: امريکا غږ راډيو: ۱۳۸۶/۷/۱۰ل. ل

[11]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905
[12]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905
[13] : https://www.bbc.com/pashto/world-59800905


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ



بې‌نظیر بوټو چې غونډې ته له وینا وروسته د روانیدو په حال کې وه، په خپل زغرهوال (ټویټا لینډکروزر) موټر کې له پاسنی کړکی کې خپلو پلویانو ته یې د خدای په امانی لاسونه ښورول چې دا مهال لومړی څو ډزې او وروسته یوه زوروره چاودنه رامنځ ته شوه.

د Getty Images عکاس **(جان مور)** ویلي وو چې بوټو د خپل موټر د چت په پرانیستې برخه (کړکی) کې ولاړه وه او خپلو پلویانو ته یې لاسونه ښورول **خو د درېیو ډزو له اورېدو وروسته د ننه په موټر نسکوره شوه.**[14]

د هند انګرېزي ورځپاڼې، **(ټایمز اف انډیا)** د یوه عادي کس له خوا اخیستل شوې ویډیو خپره کړه چې په کې ښکاري بریډکوونکي له چاودني وړاندې پر میرمن بوټو درې ډزې کوي.[15]

د بي‌بي‌سي هندي څانګې خبریال **(ریحان فضل)** په اسلام‌آباد کې د بي‌بي‌سي پخواني خبریال **(اوین بینیټ جونز)** قوله لیکي: دا مهال بلال نومی ځانمرګی چې له سهاره یې انتظار کاوه، پوه شو چې همدا وخت دی، هغه د بې‌نظیري د موټر مخې ته ورغی، بیا یې څنګ ته ورنږدې شو چې هلته خلک لږ وو، توپانچه یې راوایسته او د بې‌نظیر بوټو سر ته یې ونیوه. یوه ساتونکي د بلال د برید د مخنیوي هڅه وکړه خو هغه لېرې ؤ، یوازې څنګل ته یې لاس رسیدلی ؤ، بلال له یوې ثانیې په لږ وخت کې درې مرمۍ وویشتې، د دریمې مرمۍ له ویشتل کېدو وروسته بې‌نظیره د خپل موټر په څوکۍ کې ځای‌پرځای رنګه شوه او د هغې له رنګېدو سره سم بلال په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي هم وچوول.[16]
د چاودني له کبله د بې‌نظیر د سپرلۍ ګاډي ټایرونه چاودیدلي وو او هلته نږدې هیڅ یو امبولانس نه ؤ.
د ګاډي چلوونکي پر بې ربړه ټایرونو (ریمونو) باندې نږدې ۳۰۰ متره د بې‌نظیرې ګاډی په همدې حالت کې ځغلولی ؤ.
د بې‌نظیر بوټو سیاسي سکرترې **(ناهید خان)** وویل چې پرته له دې چې بې‌نظیر په ټیکسي کې روغتون ته ورسوو بله لار نه لرو. دوه یا درې دقیقې وروسته یو جیپ موټر راغی او موږ بې‌نظیره په همدې جیپ کې روغتون ته ورسوله.



وروسته مالومه شوه چې دا جیپ د بې‌نظیرې د ویاندې **(شیري رحمان)** ؤ. اسناد ښيي چې دوی ټول له پېښې ۳۴ دقیقې وروسته روغتون ته رسیدلي وو.[17]

په دغه ترهګر برید کې بې‌نظیر بوټو په سر او غاړه دوه مرمۍ لګیدلي وې، **وړاندې له هغې چې روغتون ته ورسیږي د شهادت مقام ته رسیدلي وه.**

د راولپینډی د لیاقت باغ سیمې په برید کې ۲۳ نور کسان هم ووژل شول او شاوخوا ۷۰ تنه ټپیان شوي وو.[18]

(د بې‌نظیرې د شهادت صحنه)

**غبرګونونه:**

[14] :http://www.cnn.com/2007/WORLD/asiapcf/12/27/pakistan.bhutto/index.html
[15]:https://web.archive.org/web/20081024042058/http:/broadband.indiatimes.com/videoshow/2660784.cms
[16]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905
[17]:https://www.bbc.com/pashto/world-59800905
[18]: بي‌بي‌سي: ۳۰ وږی ۱۳۹۶ - ۲۱ سپتمبر ۲۰۱۷.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

جنرال مشرف چي له خدايه همدا ورځ غوښتله، د ځان ښودني او د خلکو د تيرايستلو په موخه يې د بې‌نظير د وژل کيدو په پار، په پاکستان کې درې ورځي ملي ماتم اعلان کړ.

«ولسمشر جنرال مشرف د چاودني له خبر وروسته، د کابينې بېړنۍ غونډه راوبلله. بيا يې ولس ته په وينا کې وويل: موږ به تر هغه آرام نه کېنو، تر څو چې له دې ستونزې سره مقابله ونه کړو او ټول ترهګر له منځه يونه سو، همدا يوازينۍ لار ده چي زموږ ملت پرمختګ کولای شي، که نه نو دا به زموږ د پرمختګ تر ټولو لوی خنډ وي. مشرف په ټلويزيوني وينا کې د بې‌نظير بوټو ترور په کلکه وغانده، ويې ويل چې په ټول هېواد کې به درې ورځنی ملي ماتم وي او د پاکستان ملي بېرغ به په هر ځای کې نيم ځوړند ساتل کېږي.»[19]

**هم مې ووژني په خپله، هم په ما باندې ژړا کا**
**څه ښه يار دی ښه يې مينه، وژل هسې شيؤن هسې**
(خوشال بابا)

پخوانی لومړی وزير، **نواز شريف** لومړنی سياسي مشر ؤ چې روغتون ته ورسېد او د بې‌نظير بوټو له کورنی او د هغې له سياسي ملګرو سره يې خواخوږي څرګنده کړه.
نواز شريف وويل: **له نن وروسته به زه ستا (بې‌نظير بوټو) جګړه پر مخ ورم. هغه د بې‌نظير بوټو د ترور ورځ: د پاکستان په تاريخ کې تر ټولو توره او تر ټولو غمجنه ورځ وبلله.**[20]

که څه هم په ۱۹۹۰مو کلونو کې د نواز شريف او بې‌نظير بوټو ترمنځ سختې سياسي سيالی او دښمنی موجودې وې خو دواړو له جلاوطنۍ وړاندې ژمنه کړې وه چې په هېواد کې به د زغم او سياسي رواداری سياست پياوړی کوي. دوی تر دې مخکې د ډيموکراسی منشور (Charter of Democracy) هم لاسليک کړی ؤ، د دغه منشور له لاسليک وروسته دواړو ويلي وو چې د ولسمشر پرويز مشرف د واکمنۍ د پای ته رسولو لپاره به ګډ کار کوي.[21]

د هند لومړي وزير **منموهن سينګ** د هند او پاکستان ترمنځ د اړيکو د ښه والي لپاره د بې‌نظير بوټو هڅې وستايلې.

ولسمشر **حامد کرزی** (چې يو ډېر زړه‌سواند او مهربان شخص دی) د بې‌نظير بوټو پر شهادت يې سخته خواشيني څرګنده کړه، موږ پر ټلويزيون وليدل چې د ولسمشر سترګې سرې ښکاريدلې او ژړلي يې وو، ولسمشر بې‌نظير بوټو د اسلام او پاکستان يوه زړوره لور وبلله ويې ويل: **«زموږ خور شهيده شوه.»**

لکه وړاندې چې يادونه شوې وه، ولسمشر حامد کرزي د همدې ورځې پر سهار له بې‌نظيرې سره په اسلام آباد کې ليدلي وو. حامد کرزي د بې‌نظيرې د شهادت له امله په افغانستان او د نړۍ په ټولو افغان سفارتونو او استازوليو کې د افغانستان ملي بيرغ د ۲۴ ساعتونو لپاره نيم ځوړند اعلان کړ.



(بې‌نظير بوټو غونډې ته د وينا په حال کې چې دا يې د ژوند وروستی غونډه وه.)

د ښاغلي محمد انور اخګر نوري ليکنې په دې لينک کې ولولۍ.

[19]: https://www.bloomberg.com/apps/news?pid=20601087&sid=aIC81NAI_.4k
[20]: https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7161660.stm
[21]: https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4771769.stm


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ